




# فیضانِ اُمِّ عطار

پښتو

- د اُمِّ عطار پېژندګلو
- په 75 روپو کښې د کور ګزاره
- د اُمِّ عطار بعضې خاصیتونه
- د مَرې نه ظاهرېدونکې د حیرانتیا خبرې

پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوتِ اسلامی)
ترجمه:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

# وړومبے دا اولولئ

د اللّٰه پاک د انسان د پاره یو لوئے نعمت "**والدین**" هم دي. د والدینو د شرافت او عبادت اثر په اولاد باندې خامخا کیږي. که والدین نیک سیرته او اخلاقي وي نو اولاد هم د نیکئ په لار باندې تلونکے په نظر راځي، خوش قسمته دي هغه والدین کوم چې د خپل اولاد ښه تربیت اوکړي. د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامت بَرَکَاتُہمُ العَالِیَه ذات مبارک د څه پیژندګلو محتاجه نه دے. د هغوئي عمر تقریباً یو یا دوه کاله وو چې د هغوئي والد صاحب حج له لاړلو او هم هلته وفات شو. د هغوئي مور بي بي د هغوئي د روزني پالنے او تعلیم و تربیت انتظام اوکړو. په مدني چینل باندې د کیدونکو د امیرِ اهلِسُنَّت د مختلفو مدني مذاکرو او د سوالونو جوابونو او نورو پروګرامونو د مدني ګلونو، او مختلفو کتابونو او لیکونو وغیره نه د رڼا حاصلولو سره دا مضمون په نوم د "**فیضانِ اُمِّ عطّار**" جوړ کړے شو کوم چې د هغوئي د مور بي بي په 47 کلیزه په 17 صفر شریف 1445 هجرئ (2023) په موقع مخے ته راغلے دے. د دې د لوستلو سره به د امیرِ اهلِسُنَّت د مور بي بي په باره کښې د مختلفو معلوماتو حاصلولو سره سره یوه "**مور خنکه پکار وي**" په دې باره کښې هم مدني ګلونه میلاؤ شي او د اسلامي وروڼو او اسلامي خویندو دواړو د پاره به دا رساله یو شان فائده منده ثابت شي. اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم!

د ثواب ګټلو او د نیکئ دعوت عام کولو د پاره دا رساله ښه ډیره عامه کړئ او ډیرې نیکئ اوګټئ.

د دعا طلبګار غمِ مدینه و بقیع و بے حساب مغفِرت

ابو محمد طاهر عطّاري مَدَني عُفِيَ عَنه



www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# فیضانِ اُمِّ عطّار

**دُعائے خلیفۂ امیر اهلِسُنَّت**: یا الله کریمه! څوک چې زما د نیا بي بي په باره کښې رساله " **فیضانِ اُمِّ عطّار** " اولولي یا واوري هغه او د هغه ټول خاندان نیک لمُونځ ګزاره او رښتیني عاشقانِ رسول جوړ کړې.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

**د آخري نبي** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک**: چا چې په ما باندې يو ځل دُرُود را اولیږو الله پاک په هغه باندې لس ځله دُرُود (یعنې رحمت) لیږي او چا چې په ما باندې لس ځله دُرُود را اولیږو الله پاک په هغه باندې سل ځله دُرُود (یعنې رحمت) لیږي او چا چې په ما باندې زر ځله دُرُود را اولیږو، د جنّت په دروازه باندې به د هغه اوګه زما د اوګې سره وي.

(مطالع المسّرات، ص: 52 بحواله شفاء الصدور)

بچیں بے کار باتوں سے، پڑھیں اے کاش کثرت سے
ترے محبوب پر ہر دم، دُرود پاک ہم مولیٰ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد



www.dawateislami.net

## خوشبودار ځائے

د کال 1398 هجرئ مطابق 1978 عيسوئ خبره ده. په کَوُکَلي، ميتهادَر اولډ ستي ايريا (کراچئ) کښې ”بادامي مسجد“ ته نزدې به يو امام صاحب د خپلې مور بي بي وغيره سره اوسيدلو. د صفر د مياشتې په 17 شپه چې د ماسخُتن د لمُونځ د پاره تللو نو د خپلې مور بي بي خوا له راغے. د امام صاحب ديني معلومات د ”عالمِ دين“ نه کم نه وو. د بيمارۍ مور د ژوند نن آخرنۍ شپه وه. خوش قِسمته ځوي چې د ماسخُتن د لمُونځ د پاره اجازت اوغوښتو نو د حيرانتيا په طور مور بي بي اوفرمائيل: ځويه خپل لاس راوړه د پاره د دې چې زه ئې ښکل کړم، سعادت مند ځوي اووئيل: مورې! دا څنګه خبره کوې؟ زه به ستاسو لاس ښکلووم. آخر دواړو د يو بَل لاسونه ښکل کړل. د دې عقيدت او محبت نه ډک انداز نه د فارغيدو سره هغه ځلمے امام صاحب د کور نه د نُور مسجد (کهارادَر، کراچئ) په لور د جَمعې ورکولو د پاره روان شو او د ماسخُتن د لمُونځ ادا کولو سره د معمول مطابق هلته په کيدونکې هفته واره اجتماع[1] کښې هغوئي په خپل نمبر باندې د حاضرينو د سوالونو په جوابونو ورکولو کښې مشغول وو چې يو هلک هغوئي ته کور ته د تللو د

1 ...اَلْحَمْدُلِلّٰہِ الکریم! امیر اهلِسُنَّت د دعوت اسلامي د شروع کولو نه مخکښې هم خلقو ته ديني مسئلے ښودلې او د هر زيارت په ورځ به په نُور مسجد کښې د ديني مسئلو په باره کښې د سوال و جواب سلسله کيدله.



www.dawateislami.net

وئیلو د پاره راغے، خو هغوئي په دیني مسئلو وئیلو کښې مشغول وو، لږ وخت پس هغه هلک بیا راغے او رانزدې شو او اوئې وئیل یا د چا په ذریعه ئې اووئیل چې ستاسو مشره خور وائي چې کور ته راشه نو اوس د هغه ځلمي په زړه کښې تلوسه شوه چې کیدے د مور طبیعت خراب شوے وي، په اصل کښې یو څو ورځې مخکښې د اتوار په ورځ د مور بي بي طبیعت خراب شوے وو نو هغه امام صاحب ډاکټر کور ته راوستے وو او ډاکټر د چیک اَپ کولو سره په اشارو کښې څه اووئیل د کومې نه چې داسې اولګیده چې د زړه څه مسئله ده. بس بیا څه وو امام صاحب په خوا کښې ناست یو دوست ته په غوږ کښې اووئیل: کیدے شي چې په مور بي بي څه شوي وي، زه کور ته ځم، تاسو هم راشئ، کله چې زر کور ته لاړو نو اوئې کتل چې د مور بي بي ئې ځنکدن شروع دے او ژبه ئې بنده شوې ده او د مرګ چپے پرې راځي. مشرې خور ورور ته اووئیل: مور بي بي تاسو ډېر یادولئ (په اصل کښې دا ځلمے د خپلو والدینو د ټولو نه کشر ځوي وو. مور به ورته په مینه "**بابو**" وئیلو.) مور بیا بیا اووئیل: زما بابو ته آواز اوکړئ چرته هغه زما نه لرې پاتې نه شي، هغه زر را اوغواړئ! مونږ په مور بي بي زم زم شریف اوڅښل بیا مو هغې ته اِستِغفار او کلمه شریفه هم اووئیله. خو آه! چې تاسو راغلئ نو د مور بي بي هوش روان وو او هغې خبرې بندې کړې وې. نیک بخته ځوي د دې دردناکه نظارې لیدلو سره څه په وَس ځان قابو کړو او فوراً ئې د سورۀ یٰسین شریف

تلاوت شروع کړو ځکه چې په حدیثِ پاک کښې د وفات کیدونکي په خوا کښې د سورۀ یٰسین شریف لوستلو ترغیب دے.[1] د شپې تقریباً پاؤ باندې باندې لس بجے د قرآنِ کریم په تلاوت کښې د مور بي بي رُوح د تَن نه جُدا شو. د غسل نه پس ئې مخ مبارک ډیر روښانه شو او په کوم ځائے کښې چې د مور بي بي روح قبض شو، د هغه ځائے نه خوشبوئي راتلله او د وفات نه تقریباً تر څلویښتو ورځو پورې به د شپې پاؤ باندې لس بجې په کور کښې ډیره ښکلې خوشبوئي وه. هغه امام صاحب به خپل دوستان د شپې خپل کور ته راوستل او هغه غیبي خوشبوئي به ئې پرې بوئیوله، د وفات په دریمه ورځ چې کله امام صاحب د خپلې مور په قبر باندې ګلونه کیښودل نو تر ماښامه پورې هغه ګلونه تازه وو او د هغه د لاسونو نه تېوله ورځ د ګلونو خوشبوئي تلله. د الله پاک په رحمت سره څه ګرانه نه ده چې خلقو ته ئې ښودل مقصد وي چې د صحابۀ کرامو او اهل بیتو عَلیهِمُ الرِّضوَان سره محبت کوونکي، د غوث او خواجه رَحمَۃُ اللهِ عَلَیْهِما مینه والا د دې شان سره د دُنیا نه لاړه چې په هر لور خوشبوئي خوره شوه. دا هر څه د مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غلامئ برکت

1 ... سرکارِ نامدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: د کوم وفات کیدونکي سر ته چې د سورۀ یٰسین شریف تلاوت کیږي الله پاک په هغه باندې آساني فرمائي. (موسوعة ابن ابي الدنیا، 454/5، حدیث: 195) په یو بَل حدیثِ پاک کښې دي: د خپلو وفات کیدونکو په خوا کښې سورۀ یٰسین لولئ. (ابو داؤد، 256/3، 257، حدیث: 3121)



www.dawateislami.net

دے چا ته چې ئې نظر شي نو يواځې هغه نۀ بلکه د هغه په برکت دُنيا خوشبوداره شي.

د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئې باندې رَحمت وي او د هغوئې په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي. اٰمين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اعلٰی حضرت امام اهلِسُنَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي:

واسِطہ پیارے کا ایسا ہو کہ جو سُنّی مرے
یوں نہ فرمائیں ترے شاہد کہ وہ فاجِر گیا

عرش پر دُھومیں مچیں وہ مومن صالِح مِلا
فرش سے ماتم اُٹھے وہ طیب و طاہر گیا

(حدائقِ بخشش، ص:53)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

آيا تاسو ته معلومه ده چې دا نيک سيرته ځلمے، ديني مسئلے ښودلو والا د جُمات پيش امام او د مور بې لاس ښکلو والا سعادت مند څوک وو؟ آو جي! دا څوک بل څوک نه وو بلکه د دعوتِ اسلامي بانـي شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي بَيَّضَ اللهُ وَجْهَه (يعنې الله پاک دې د هغوئې مخ روښانه کړي) وو او وفات شوې خوش قِسمته زنانه د هغوئې مور بي بي وه.

ان کی تربت پہ بارش ہو انوار کی مولا رتبہ بڑھا اُمِّ عطّار کا

## جنّت کښې داخله

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د الله ربُّ العِزَّت په رحمت سره د امير اهلِسُنَّت



www.dawateislami.net

بَيَّضَ اللهُ وَجْهَه په مور بي بي باندې څومره کرم اوشو د آبِ زم زم شريف څښلو سره ئې کلمه او اِستِغفار اووئيلو او وفات شوه. د الله پاک د خوږ آخري نبي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دے: "د چا چې آخري کلام لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ (يعنې کَلِمۂ طَيِّبَه) وي، هغه به جنت ته داخليږي." (ابو داؤد، 255/3، حديث:3116) رَبِّ غفّار! دې د اُمِّ عطّار په مزار باندې د خپلو رحمتونو باران اوکړي.

نازل ہوں سدا رحمت کے گہر عطّار کی پیاری اَمّی پر

ہو پیارے نبی کی خاص نظر عطّار کی پیاری اَمّی پر

د امير اهلِسُنَّت د مور بي بي د وفات په دې واقعه کښې زمونږ د پاره يوه خبره دا هم د زدکړې ده چې د امير اهلِسُنَّت سره د هغوئې مور بي بي ډير محبت کولو، ځکه خو مور بي بي هغوئې ته اوفرمائيل چې نن به زه ستاسو لاسونه ښکلووم. **کاش!** د خبرو په ځائے مونږه خپل کردار صحيح کړو. چې کله دنيا والا څوک ښه اوګڼي نو بے شکه هغه ښه وي خو چې د چا د کردار ګواهي د هغوئې کور والا هم ورکړي نو هغه وخت به د هغه د ښه سړيتوب څه وائي. الله کريم! دې د امير اهلِسُنَّت په برکت مونږه نيک سيرته جوړ کړي.

ہوں بظاہر بڑا نیک صورت کر بھی دے مجھ کو اب نیک سیرت

ظاہر اچھا ہے باطن برا ہے یاخدا تجھ سے میری دعا ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد



www.dawateislami.net

## د اُمِّ عطّار تعارُف

د امیر اهلِسُنَّت د مور بي بي نوم "**امینه بنت حاجي هاشم**"[1] وو. هغه د هندوستان د ګجرات صوبے د "**جُونا ګړ**" ریاست په یو کلي کُتیانه کښې د پاک وهند د تقسیم نه مخکښې پیدا شوه. هغه نیکه او پرهیزګاره زنانه وه. د هغې یو وررور او درې لوڼه وو. د وررور نوم ئې "نور محمد بُهنډي" او د خویندو نومونه ئې رابعه، عائشه او حوّا وو. د امیر اهلِسُنَّت د [مور د طرفه د] نیا نوم "**حلیمه**" وو.

## د امیر اهلِسُنَّت 3 تروریانې

د امیر اهلِسُنَّت ترور رابعه به په کراچۍ کښې اوسیدله. امیر اهلِسُنَّت به د هغوئې خوا له ډیر تللو. بَله ترور عائشه ئې په کولمْبو [سري لنکا] کښې اوسیدله. په کال 1979 کښې چې کله امیر اهلِسُنَّت په وړومبي ځل کولمْبو ته تشریف وړے وو هغه وخت ئې د دې سره ملاقات شوے وو. ډیر د غریبۍ ژوند ئې تیریدلو. د دوئې د بچو د پلار نوم "**احمد پګهي**" وو. چا چې امیر اهلِسُنَّت ته د هغوئې د والد صاحب د قصیدۀ غوثیه والا[2] واقعه بیان کړې

1 ... د حضرت عمر بن عبد العزیز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د یوې لور نوم هم امینه وو.
(حضرت سیدنا عمر بن عبد العزیز کی 425 حکایات، ص: 185)

2 ... دا واقعه په تفصیل سره د لوستلو د پاره د امیر اهلِسُنَّت د والد صاحب په سیرت باندې مشتمله رساله "فیضانِ ابو عطّار" اولولۍ.

وه. دريمه ترور ئې حوّا وه. د امير اهلِسُنَّت د هغوئې سره ملاقات يا زيارت چرې نه وو شوے. د هغې په باره کښې معلومات دا دي چې هغه په مدراس هندوستان[1] کښې اوسيدله.

## د ماما جان د طرف نه بَلَنه

د امير اهلِسُنَّت يو ماما جان وو د کوم نوم چې ”**نور محمد بُهنډي**“[2] وو. د ماما جان کور ئې څه وو بس يوه کمره وه، په کومه کښې چې د تختو دَرے [تاخه] جوړ وو په هغې کښې به ئې بوډئ نيا ابئ ملاسته وه، دَرے داسې وو چې راپاڅيدلې به نو نيغ به نشوې اودريدے څکه چې سر به د چهت سره لګيدلو. ماما جان به ئې کله کله خپلې خور يعني اُمِّ عطّار له بلنه ورکوله. په کومه چې امير اهلِسُنَّت فرمائي: مونږ. خويندې وروڼه به په شريکه تللو. د امير اهلِسُنَّت ماما جان به د اختر په موقع کور ته راتللو او په عيدئ [د اختر سيل] کښې به ئې خپل خورئې، خوريزو له اته آنې يعني نيمه روپۍ ورکوله.

(مدني مذاكره بنام رؤيت هلال، 28 رمضان: 1439)

## د مدد کولو سره په چا باندې دُعا مه کوئ

امير اهلِسُنَّت د خپل ماما جان د يوې ځانګړې واقعې بيانولو سره فرمائي:

---

1 ... د مدراس اوسنے نوم چِنائي دے دا د هندوستان تامل ناډو رياست دار الحکومت او د ملک څلورم لوئے ښار دے.

2 ... په ميمن کميونټي کښې بُهنډي Surname دے.



www.dawateislami.net

يوه ورځ ماما جان ما له يو غريب له ډوډۍ د ورلو د پاره راکړه. زما د خُلے نه اووتل: زه چې فقير له ډوډۍ ورکړم نو ورته به وايم چې مونږ ته دُعا اوکړئ. ماما جان اوفرمائيل: فقير له د ډوډۍ ورکولو سره په هغه باندې دُعا کول خو داسې شول لکه چې تاسو د ډوډۍ ورکولو د نيکۍ بدله اوغوښتله.

(تذکره امير اهل سنت قسط: 7، بالتصّرف)

مَاشَآءَاللّٰهُ الكريم! د ماما جان څومره ښکلے ژور سوچ وو! زمونږ د بزرګانِ دين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم هم داسې قسمه انداز په کتابونو کښې ليکلے شوے دے لکه څنګه چې د مسلمانانو خوږې مور جانې حضرت عائشه صِدِّيقه او حضرت اُمِّ سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهما به چې کله فقير له څه تحفه ليږله نو ورونکي ته به ئې فرمائيل: د هغه د دُعا والا الفاظ ياد ساته، بيا به ئې په هغه شان الفاظو جواب ورکولو [يعني هغه قِسمه دُعا به ئې ورته کوله] او فرمائيل به ئې: د دُعا په بدله کښې مې ځکه داسې دُعا اوکړه د پاره د دې چې زمونږه صدقه (يعني هغوئي ته د ورکړے شوي خيرات ثواب) محفوظ پاتې شي.

امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې واقعې ذکر کولو نه پس ليکي: الغرض! صالحانو (يعني نيکانو بندګانو) خو به د دُعا طمع هم نه لرله ځکه چې دا د بدل مُشابِه (يعني په شان) ده او هغوئي به د دُعا په بدله کښې دعا کوله. د مسلمانانو دويم خليفه حضرت سيدنا عمر فاروق او د هغوئي ځوي حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهما به هم داسې کول. (احياء العلوم، 292/1)



www.dawateislami.net

کيدے شي چې د ماما جان په نظر کښې د بزرګانو دا اعمال وو د کوم له وجې چې هغوئي خپل خورئي ته د دې ترغيب ورکړو. الله پاک دې مونږ له هم د خپلې رضا د پاره د غريبانانو د مرستې کولو توفيق راکړي. د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

مرا ہر عمل بس تِرے واسطے ہو کر اخلاص ایسا عطا یا الٰہی!

(وسائل بخشش، ص: 105)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ماما جان د وفات کيدو دردناکه واقعه

افسوس! د ماما جان وفات ډير په دردناک انداز کښې اوشو، ماما جان د خپلې مشرئ لور د واده د سودا اخستلو سره واپس راتللو چې بس ته د ورختلو سره ئې ښپه اوخوئيدله او آه! ماما جان د روان بس نه پريوتو او د هغه سر د ټائر د لاندې راغے او وفات شو. هغوئي د کراچئ مشهوره هديره **"ميوه شاه"** کښې خاورو ته اوسپارلے شو. د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې مونږه بے حسابه هم اوبخښي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد



www.dawateislami.net

## په 75 روپو کښې د کور ګزاره

د والد صاحب د وفات نه پس د امیر اهلِسُنَّت مشر ورور ”**عبدُ الغني**“ د خپلې برادرئ ګُتیانه میمن ایسوسیې ایشن په یوه دواخانه کښې ملازمت اختیار کړو. چرته چې به هغوئي ته په شروع کښې د میاشتې 75 روپئ تنخواه میلاویدله. په کومه چې به هغوئي د خپلې کونډې مور او یتیمانانو خویندو وروڼو خدمت کولو.

## د اُمِّ عطّار خود داري

د امیر اهلِسُنَّت عمر به یو نیم یا دوه کاله وو چې د هغوئي والد صاحب حاجي عبد الرحمان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه حج له لاړلو او په مِنٰی شریف کښې د ډیرې ګرمئ له وجې غالباً په 14 ذي الحج شریف وفات شو. د کور د مشر د وفات کیدو نه پس د کور ټوله ذمه واري لکه چې د امیر اهلِسُنَّت په مور بي بي باندې راغله. هغوئي په هغه سختو حالاتو کښې خپل بچي سمبال کړل او د خوارئ مزدورئ کولو سره به ئې خپل کور چلولو.

## د دوو دانو بخښنانه کوئ

د امیر اهلِسُنَّت مور بي بي به کور ته ورَتې شوې چڼې او مونګ پلې د سپینولو د پاره راوړل، د یو سِیر[1] چڼو پاکولو به څلور آنې او د یو سِیر مونګ

---

1 ... تقریباً پنځوس کاله مخکښې به د وزن او روپو حساب داسې کیدلو. تقریباً دا نظام ختم شوے دے یو سِیر د کلو نه لږ زیات وو او په یوه روپئ کښې به 16 آنے وې. اوس په کلو ګرام او روپو کښې وزن او قیمت وئیلے کیږي.



www.dawateislami.net

پلو سپينولو به يوه اَنه ميلاويدله. د کور ټولو ګسانو به په شريکه سپينول. د کار په وخت به امير اهلِسُنَّت کوم چې په دغه وخت کښې غالباً د څلورو پينځَو کالو وو، درې څلور دانې خوړلې نو مور ته به ئې وئيل: مورې د سيټه نه ئې بخښنانه اوغواړه. مور بي بي به د مزدورئ اخستو په وخت کله سيټه ته وئيل: بچے دوه دانې خورې. بخښانه کوئ.

## په کور کښې د عبادت رُجحان

امير اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: اَلْحَمْدُلِلّٰه! زمونږ د کور ماحول ديني وو زما مشر ورور او مور بي بي وغيره به په شريکه د خادر غوړولو سره په بادامو باندې څه لوستل. د کم عمرئ په وجه ما ته ياد خو نه دي چې څه به ئې لوستل البته د کور ماحول د عبادتونو، لمُونځونو او روژې والا وو.

(مدني مذاکره 09 صفر المظفر 1442ھ)

## د مور بي بي په برکت ټوله کورنئ لمُونځ ګزاره وه

په کور کښې به هره مياشت د حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د يولسمې په سلسله کښې [د ايصالِ ثواب] نياز کيدلو. اُمِّ عطّار د لمُونځونو او روژې پابنده وه. امير اهلِسُنَّت فرمائي: اَلْحَمْدُلِلّٰه! زه چې په ښه بَد پوهه شوم نو په کور کښې مې لمُونځ، مصلّٰی او مور بي بي د خادر اچولو سره په لمُونځ کولو اوليدله. خاص



www.dawateislami.net

طور به ئې د سحر د لمونځ د پاره زه راپاځولم.اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! په سخته يخنئ کښې به هم د جُمات د حاضرئ شرف حاصليدلو.

(مدني چينل پروګرام پراني يادين، قسط:2 بتغير)

## چې څنګه ئې مور هغه شان ئې اولاد

د اُمِّ عطّار د مُعَطَّره ژوند په دې حِصَّه کښې زمونږ د اسلامي خويندو د پاره لوئے درس دے. کاش! لکه څنګه چې مور بچي سحر وختي د سکول او نوکرئ د پاره راپاځوي. کاش! د دې نه زيات د لمُونځ، روژې او نورو عبادتونو د ادا کولو ذهن هم جوړ کړي. ځکه چې "د مور غيږه" د بچي وړومبئ مدرسه ده. که مور نيک سيرته، لمُونځ روژې والا، د سُنتو پابنده، حيا داره او اخلاقي وي نو د هغې اولاد ته به هم دا ښه عادتونه منتقل کيږي او که خدائے دې نه کړي مور د نيک اعمال نه لرې، ناجائزه فيشن کوونکې، د ګناهونو نه ډک تي وي چينلې کتونکې وي نو دا بدي ئې په اولاد کښې هم راتلے شي. نن سبا ډير والدين د خپل اولاد په نافرمانئ خفه وي، په امامانو صاحبانو باندې دعاګانے کوي او د اولاد د بد اخلاقئ فريادونه کوي. حالانکه د اولاد په خرابيدو کښې بعضې وخت پخپله د مور و پلار د بے عملئ حصه هم وي والدينو له ښه غور پکار دے چې پخپله دوئي د خپل اولاد ښومره ديني تعليم او تربيت کړے دے!



www.dawateislami.net

## بچي د وړوکوالي نه سمبال کړئ

د چا بچي چې لا اوس واړه دي هغوئي ته خواست دے چې د اوس نه دې په خپل کور کښې سنت عام کړي. چې کور له مذهبي او ديني رنګ ورکړئ نو د خپل آخرت د بهترئ سره سره به د بچو په تعليم و تربيت کښې ډيره لويه فائده اوشي. کور د نيکو نه د ډکولو د پاره په خپل کور کښې صرف او صرف مدني چينل لګوئ. د الله کريم او د هغه د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارک نوم به د ورو ماشومانو په غوږونو کښې تاويږي او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم!د اوس نه به په زړه کښې د محبتِ رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شمع بله شي. خپل بچي د سندرو د لوبو څيزونو او د داسې دستورو [يعني پروګرامونو] نه هم بچ کړئ په کومو کښې چې سندرې غږيږي. چې نن ئې بچ کړئ نو مخکښې به هم بچ شي. خپلو بچو ته د حقوقُ العِباد (يعني د بندګانو د حقونو) په باره کښې هم وائي چې مونږ له د چا حق نه دي خوړل پکار او نه د چا څه څيز پټول پکار دي. دې لړ کښې د اُمِّ عطّار د سيرت يوه ايمان تازه کوونکې واقعه اولولئ:

## د اُمِّ عطّار بعضې خاصيتونه

د امير اهلِسُنَّت په مور بي بي کښې بعضې نورې هم خوبيانې وې لکه د چا مال په نا حقه نه خوړل، چې څه څيز ترې هير شو د هغې د پاره خفه کيدل، بغير د اجازت نه څه څيز پخپله نه راخستل وغيره. هغوئي به د داسې کار



www.dawateislami.net

کوونکو نه خفه کيدله او فرمائيل به ئې: بعضې زنانه سبزئ اخستو له ځي او بغير د اجازت نه په خپله تهيلئ کښې مرچکي وغيره رااخلي او اچوي ئې پکښې. داسې نه دي کول پکار. حالانکه په دغه دور کښې دا عامه خبره وه چې د سبزئ سره به مرچکي، دهنيا وغيره دُکاندار پخپله ورکول، د دې باوجود هم دومره احتياط مرحبا.

**واقعي! د الله د نيکانو بندګانو څه کمے نشته.** ياد ساتئ! د حقوقُ العباد معامله ډيره نازکه ده. په ظاهره وړوکے په نظر راتلونکے حق خوړل هم د قبر او حشر په امتحان کښې ګيرولے شي ځکه د چا د وړوکي نه وړوکے حق مه ضائع کوئ پته نه لګي چې کومه يوه ګناه مو په آخرت کښې راګير کړي.

## يو وړوکي ډکي د جنَّت نه منع کړو

عظيم تابعي بُزرګ حضرتِ سيِّدُنا وَهب بن مُنَبِّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يو اسرائيلي ګس د خپلو تيرو ټولو ګناهونو نه توبه کړه، تر اوياو [70] کالو پورې ئې پرله پسې داسې بندګي اوکړه چې د ورځې به ئې روژه نيوله او د شپې به ئې د ويخ پاتې کيدو سره عبادت کولو، نه به ئې څه ښه خوراک کولو نه به ئې چرته په سوري کښې آرام کولو. د هغه د وفات نه پس چا هغه په خوب کښې اوليدو او پوښتنه ئې ترينه اوکړه: الله پاک ستاسو سره څه معامله اوفرمائيله؟ جواب ئې ورکړو: الله پاک زما نه حساب واخستو، بيا ئې زما ټول ګناهونه



www.dawateislami.net

اوبخښل خو یو ډَکے په کوم باندې چې ما د هغه د مالک د اجازت نه بغیر په غانښونو کښې خِلال کړے وو [یعني په غانښونو کښې مې وهلے وو یا غانښونه مې پرې صفا کړي وو] (او دا معامله د حقوق العباد وه) او د هغې معافي رانه پاتې شوې وه د دې په وجه زه تر اوسه پورې د جنت نه منع کړے شوے یم.

(تنبیه المغترین، ص: 51)

**یاد ساتئ!** د چا مال په ناحقه طریقه اخستل ناجائزه او ګناه او دوزخ ته بوتلونکے کار دے. په قرآنِ کریم کښې هم د دې بدې بیان شوې ده لکه څنګه چې په دویمه سیپاره، سورۃُالبَقَره، آیت نمبر: 188 کښې ارشاد دے:

(وَلَا تَاْكُلُوْۤا اَمْوَالَكُمْ بَیْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ) **مفهوم ترجَمۂ کنزُ الایمان:** "او په خپل مینځ کښې د یو بَل مال ناحقه مه خورئ."

حضرت علامه مولانا سیِّد محمد نعیم الدِّین مراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په "**خَزائنُ العرفان**" کښې د دې آیت لاندې لیکي: په دې آیت کښې په باطل طور باندې د چا مال خوړلو ته حرام فرمائیلے شوي دي که لوټ کړے شوے وي یا په زوره اخستے شوے وي یا په جوارئ سره یا په حرامو تماشو یا د حرامو کارونو یا د حرامو څیزونو په بدل یا رشوت او د دروغو ګواهئ ورکولو سره [اخستے شوي وي] دا ټول ممنوع او حرام دي. (خزائن العرفان، ص: 54)

## د اُمِّ عطّار د واقعي مدني سپرلے

د اُمِّ عطّار یو احتیاط په مدني چینل باندې بیان شو نو د هغې یو مدني



www.dawateislami.net

سپرلے داسې ظاهر شو چې يو اسلامي وررور کور کښې د خپلو بچو د مور سره مدني چينل کتلو. د اُمِّ عطّار دا واقعه چې ئې واوريدله نو د هغه د ماشومانو مور اووئيل: تاسو چې نن سحر کومه سبزي راوړې وه، په هغې کښې وړوکے شان چقندر هم وو. دا ئې چې واوريدل نو د هغې د بچو پلار جواب ورکړو: ما خو چقندر نه وو اخستے. د هغې د وړو پلار د شپې هغه وخت د دکان بنديدو ګمان کولو سره بَله ورځ چې کله سبزئ والا ته د دې وئيلو سره د نور رقم اخستلو اووئيل نو د سبزئ والا جواب ډير مزيدار وو: هغه اووئيل! جناب! د چقندر زياتي تللو مسئله نه ده خو تاسو چې کومه سبزي اخستې وه په هغې کښې د چقندر راتللو په وجه به ستاسو د سبزئ مقدار کم شوے وي، اوس چې تاسو زما نه هغه سبزي اخلئ نو ما ته به اووائې چې زه د هغه همره وزن سبزي زياته واچووم. (مدني چينل پروګرام پراني يادين، قسط:32)

## د اُمِّ عطّار اِحتياط

د اولاد په صلاحيتونو او خوبيانو کښې د والدينو هم حصه وي. نيک او بنه عادتونه د والدينو نه بچو ته هم منتقل کيدے شي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! اُمِّ عطّار به وخت په وخت توبه کوله، کله داسې هم شوي دي چې چرته به څه داسې خبره اوشوه په کومه کښې چې به د کُفر د اړخ شک وو نو په دې باندې ئې د خپل ځلمي ځوي امير اهلِسُنَّت نه پوښتنه اوکړه: داسې وئيل کُفر خو نه



www.dawateislami.net

دے؟ د وفات کيدو نه يو څو ورځې مخکښې خويندو، وروڼو د راجمع کيدو سره د توبے او د تجديدِ ايمان سعادت حاصل کړو او اُمِّ عطّار د خپل ژوند په آخري اتوار هم د توبے او احتياطاً د تجديدِ ايمان سعادت حاصل کړو.

## توبه کوونکے

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! نن سبا حالات ډير زيات نازک دي، د ايمان د حفاظت ذهن کم شوے دے! ايمان سمبالول ډير ضروري شوي دي. د مدينے د تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: په خلقو باندې به يوه داسې زمانه هم راځي چې هغه وخت به د خلقو په مخکښې په خپل دين باندې صبر کوونکے، د اور د سکروټې نيولو په شان وي. (ترمذي، 115/4، حديث: 2267)

## مدني مشوره

هره ورځ کم نه کم يو ځل مثلاً د اوده کيدو نه مخکښې (يا چې کله غواړئ) احتياطي توبه او تجديدِ ايمان اوکړئ. (او که په آسانئ سره ګواه ميلاويږي نو ښځه او خاوند د توبے کولو سره په کور کښې دننه کله نا کله احتياطاً تجديدِ نکاح کوئ. مور، پلار، خويندې وروڼه او اولاد وغيره عاقِل او بالِغ مسلمان نارينه او زنانه د نِکاح ګواه جوړيدے شي. د احتياطي تجديدِ نکاح د پاره د مَهر ضرورت هم نشته.)



www.dawateislami.net

## حکيم بغير د آپريشن نه علاج اوکړو

د ”دعوتِ اسلامي“ د جوړيدو نه مخکښې يو ځل د امير اهلِسُنَّت په مرئ کښې سخت تکليف شو او پوهاقي شان شوه. د ډاکټر د علاج سره څه فائده اونشوه نو هغه اووئيل: کيدے شي چې آپريشن به ورله کول وي. د هغوئي مور بي بي هغوئي له يو مشهور کلي والا حکيم راوستو. حکيم صاحب د چيک اَپ کولو سره څه کورنئ دواياني د خوړلو او غړ غړو د پاره ورکړې. د اللّٰهُ ربُّ العِزَّت په رحمت سره هغه مرض داسې لاړو چې بيا کله هم هډو رانغے.

(مدني چينل پروگرام پرانی يادیں، قسط: 28 بتغير)

## خارښ ښنګه ټيک شو!

د امير اهلِسُنَّت خوږه مور جانه د ډيرو کلونو پورې د لاس د تَلو خارښ ډيره پريشانه کړه، هيڅ علاج ئې نه کيدو. د چا د وئيلو مطابق هغې نکريزه د اوبو په ذريعه لږه نرئ کړه او په هغې کښې ئې په مناسِب مقدار کښې د ليمو نچوړولو سره لږه شان نيلا تهوتها[1] شامله کړه او د خارښ په ځائے ئې لګول شروع کړل. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د هغې سره فائده اوشوه.[2] (گھریلو علاج، ص: 39)

ہے صبر تو خزانہ فردوس بھائیو! عاشق کے لب پہ شکوہ کبھی بھی نہ آسکے

1 ... دا زهر دي د پنساري سره ميلاويدے شي.

2 ... د طبيب د مشورې سره دا علاج د شِفا ترلاسه کيدو پورې جاري ساتل پکار دي. که بيا خارښ راشي نو بيا هم دا علاج کول پکار دي.



www.dawateislami.net

# د لوبو يو ميدان

کشر اولاد عموماً د مور پلار لږ زيات خوښ وي داسې معامله د امير اهلِسُنَّت سره وه ځکه چې هغوئي په کور کښې د ټولو نه کشر وو. مور بي بي به هغوئي چرته لرې نه پريښودلو. د امير اهلِسُنَّت د ورېرکوالي د يو دوست څه داسې بيان دے: د امير اهلِسُنَّت د کور نه په څه فاصله باندې د لوبو يو ميدان وو چې نوم ئې "**ککري ګراؤنډ**" وو. د کور او ککري ګراؤنډ په مينځ کښې يو غټ روډ وو په کوم به چې ګاډي تلل راتلل د امير اهلِسُنَّت مور بي بي به خپل ځوي "**بابو**" د محبت په وجه د دې روډ نه د اووختلو نه منع کولو او د هغوئي فرمانبردار ځوي به هم د مور بي بي اطاعت کولو. يو ځل زه (يعني هغه دوست) هغوئي ته د روډ نه د اووختلو سره ککري ګراؤنډ کښې د لوبو کولو د پاره د تللو اووئيل نو هغوئي اوفرمائيل: نۀ، زما مور زه هغه ځائے ته د تللو نه منع کړے يم. دوست اووئيل: اوس دې مور چرته وينې! چې پوښتنه اوکړي نو ورته اووايه زه نه ووم تلے. هغوئي بے اختياره اوفرمائيل: "**زه به دروغ نه وايم.**"

(مدني چينل، پروګرام پرانی یادیں، قسط: 22)

اے عاشقانِ رَسُول! چرته چې په دې واقعه کښې د ځوي سره د مور د شفقت بيان دے نو هلته د مور د اطاعت بهترين مثال هم دے. ورو بچو له پکار دي چې هغوئي د خپل مور و پلار فرمانبرداري کوي چې د دوئي په اطاعت کښې عظمت دے. د مور و پلار دُعا د اولاد قسمت بدلوي. اميرِ اهلِسُنَّت فرمائي:



www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُلِلّٰه! زه په دې خوشحاله يم چې زما مور په دې حال كښې د دنيا نه لاړه چې زما حُسنِ ظن [ښه گُمان] دے چې هغه زما نه خوشحاله وه او زه وايم چې نن ما ته څه حاصل دي **"دا كيدے شي چې زما د مور د دُعا نتيجه ده"**.

(آڈیو بیان: انسان کی تخلیق کا مقصد بتغیر)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مور بي بي غمژن وفات [1]

امير اهلِسُنَّت فرمائي: د مور بي بي د وفات شريف نه تقريباً يو كال مخكښې مشر وورور په 15 محرم الحرام د 40 يا 45 كالو په عمر كښې د ټرين په پيښه كښې وفات شو، مور بي بي په دې هم ډيره غمژنه وه. مور بي بي به په غم كښې ژړل او زړه ته ئې دغه غم اچولے وو. په 17 صفر شريف 1398 هجرئ د جُمعې په شپه تقريباً پاؤ باندې لس بجې مور بي بي وفات شوه."اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رَاجِعُوْن" د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

جس جگہ پر وصالِ مبارک ہوا وہ مہکتی تھی یوں جیسے گلزار سا

## د جُمعې په ورځ د وفات كيدونكي ثواب

د الله پاک دې د اُمِّ عطّار په مزار باندې د رحمتونو باران وي. مَاشَآءَ اللّٰه! د

---

1 ... د رسالے په شروع كښې د امير اهلِسُنَّت د مور بي بي د وفات پوره واقعه بيان شوې ده. دلته د مخكښې كيفيت څه لږ بيان دے.

هغې د جُمعې شپه نصيب شوه. د جُمعې په شپه وفات کيدونکے خوش قسمته د "**شهيد**" درجه بياموي. لکه څنګه چې د حضرت سيِّدُنا جابر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: "کوم کَس چې د جُمعې په ورځ يا د جُمعې په شپه وفات شو هغه د قبر د عذاب نه بچ کړے شو او هغه به د قيامت په ورځ په داسې حال کښې راځي چې په هغه باندې به د شهيد مُهر وي.

(حلية الاولياء 3/181، حديث: 3629)

## د قبر د ازميښت نه محفوظ

د حضرت سيِّدُنا عبدُ الله بن عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې د الله پاک محبوب صَلَّی اللہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: "کوم مسلمان چې د جُمعې په ورځ يا د جُمعې په شپه وفات شي هغه به د قبر د ازميښت نه محفوظ وي."

(ترمذي، 2/339، حديث: 1076)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د جَمعې سره د لمونځ کولو عظيمه جذبه

امير اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ فرمائي: د الله پاک په کرم سره مې د شروعِ نه د جَمعې سره د لمُونځ کولو ذهن جوړ وو. تر دې چې کله زما مور بي بي وفات شوه نو هغه وخت په کور کښې بَل څوک نارينه نه وو، زه يواځې ووم خو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! د مور د مَړي پريښودو سره مې په جُمات کښې د جَمعې ورکولو



www.dawateislami.net

سعادت حاصل کړو. د مور په غم کښې په لمُونځ کښې زما د سترګو نه اوښکې ضرور بهیدلې، خو په دې حالت کښې مې هم اَلْحَمْدُلِلّٰه! جَمعه قضا نکړه. دغه شان د واده په ورځ هم غالباً د ټولو لمُونځونو د جَمعې سره د ادا کولو سعادت حاصل شو.

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! چې په سر معمولي شان درد شي یا زُکام [یخنئ] اووهي، تَبه راشي یا څه بَله د غم خوشحالئ موقع راشي د ډیرو لمُونځ کوونکو د جَمعه بلکه لمُونځ قضا شي افسوس! د لمُونځ کوونکو هم د جَمعې سره د لمُونځ کولو ذهن کم پاتې شوے دے.

حضرت علامه سیِّد محمود احمد رضوي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: په هر عاقل، بالغ، حُر (یعني آزاد) او قادِر (یعني چې څوک قدرت لري په هغه) مسلمان (نارینه) باندې د جَمعې سره لمُونځ واجب دے او بغیر د عُذر (یعني بغیر د څه مجبورئ نه) یو ځل هم جَمعه پریښودونکے ګنهګار دے او ډیر ځل پریښودل فِسق دے. (فیوض الباري، 297/3 بتغیر قلیل)

د امیر اهلِسُنَّت د مور د مړې پریښودو سره جَمعه ورکول زمونږ د پاره د تقلید وړ خبره ده چې هر څنګه آفت او مصیبت راشي تر هغه وخته پورې د جَمعې سره لمُونځ نه دې پریښودل پکار تر څو چې شریعت اجازت ورنکړي.



www.dawateislami.net

الله کريم دې د امير اهلِسُنَّت په وسيله مونږ له پينځه واړه لمُونځونه د جَمعې سره او هغه هم په وړومبي صف کښې د ادا کولو توفيق راکړي. اٰمين

میں پانچوں نمازیں پڑھوں باجماعت ہو توفیق ایسی عطا یا الٰہی

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مور بي بي جنازه

د امير اهلِسُنَّت د مور بي بي جنازه د جُمعې په ورځ غالباً د جُمعې د لمُونځ نه مخکښې د نُور مسجد (چرته چې به هغوئي امامتي کوله) نه بهر ادا کړے شوه. جنازې له حضرت علامه مولانا قاري محمد مُصلِحُ الدِّين قادري رضوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه[1] هم تشريف راوړو. امير اهلِسُنَّت چې هغوئي ته د جنازې کولو عرض اوکړو نو هغوئي امير اهلِسُنَّت ته د "**ستاسو مور ده تاسو ئي جنازه اوکړئ**" فرمائيلو سره د جنازې کولو اوفرمائيل او داسې خوي د خپلې مور بي بي جنازه اوکړه.

1 ... حضرت مولانا قاري مُصلح الدِّين صديقي قادري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په 1326 هجرئ کښې په ضلع نانديړ، حيدر آباد دَکّن هندوستان کښې پيدا شو- هغوئي باعمله عالم، ډير خوږ آوازه قاري، استاذ العلما او شيخِ طريقت وو. په 7 جمادَي الأُخرىٰ 1403 هجرئ ئي وصال اوفرمائيلو، مزار مبارک ئي په مُصلح الدِّين ګارډن کراچئ پاکستان کښې دے. (ماهنامه فيضانِ مدينه، جمادي الاخري: 1439)



www.dawateislami.net

## د مړي نه ظاهرې شوې د حيرانتيا خبرې

حاجي محمد حنيف بِلّو[1] څه داسې بيانوي: کله چې د امير اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مور بي بي وفات شوه نو لږ وخت پس څو اسلامي ورونه د لاس نيوې د پاره حاضر شول زه هم په هغوئي کښې شامل ووم. د مور بي بي مړے په کور کښې کيښودے شوے وو، امير اهلِسُنَّت په غم کښې په بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې د اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په شعرونو سره څه داسې فرياد کولو:

اے شافعِ اُمم شہِ ذی جاہ لے خبر    لِلّٰہ    لے    خبر    مری لِلّٰہ لے    خبر

په بَله ورځ ما (يعني حاجي حنيف بِلو) امير اهلِسُنَّت ته اووئيل چې کوم وخت تاسو د مور بي بي د مړي خوا کښې په ژړا ژړا په بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې فرياد کولو. ستاسو مور بي بي ما ته په مينمنئ ژبه کښې اوفرمائيل: (خلاصه) "الياس ته اووايه مه خفه کيږه زه ډيره خوشحاله يم" دا چې مې واوريدل نو ما اوکتل چې کيدے شي دا زما وَهم وي، مړے څنګه خبرې کولے شي؟ څکه تاسو ته ما د دې خبرې څه ذِکر اونکړو. د

1 ... د 12 ربيع الاوّل شريف 1427ھ د نهې په ورځ (11 اپريل 2006) کښې د نشتر پارک په شوې پيښنه کښې شهيد شوے حاجي محمد حنيف بِلّو په شروع کښې يو ماډرن ځلمے وو. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ الْكَرِيْم! د امير اهلِسُنَّت د ځانله کوشش په برکت ئې ديني ماحول خپل کړو، لمُونځ ګزاره شو او په مخ ئې د سنت مطابق ګيره پريښوده.



www.dawateislami.net

دفن کولو په ورځ چې کله زه په خپله کمره کښې د اوده کيدو د پاره سملاستم، لا ويخ ووم چې ستاسو وفات شوې مور بي بي راغله او زما مخې ته اودريده او په ميمنۍ ژبه کښې ئې اوفرمائيل: (مفهوم) تا زما ځوي الياس ته تر اوسه پورې پيغام ولې ورنکړو چې "هغه دې نه خفه کيږي زه ډيره خوشحاله يم." دا مې چې واوريدل نو زه حيران شوم او چا اهلِ علم ته ما د دې خبرې کولو سره مسئله معلومه کړه چې زما سره دا څه کيږي، آيا واقعي ده چې مَړي خبرې کوي او دغه شان اختيار لري؟ په دې باندې هغوئي زه په دليلونو سره پوهه کړم چې د داسې قسمه واقعاتو نه زمونږ کتابونه ډک دي. الله پاک په خپل فضل و کرم سره د خپلې خوښې بندګانو ته ډير اختيارات ورکوي.[1] ورکوي.[1] ځکه زه مطمئن شوم بيا مې تاسو ته دا ټولې خبرې اوکړې. حاجي حنيف بِلو صاحب وروستو دا هم اووئيل چې زه کله امير اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه ته د هغوئي د مور بي بي پيغام ورکولو نه را اوګرځيدم نو فوراً د هغوئي د مور بي بي مخ زما سترګو ته را وړاندې شو، دوه لفظونه ما واوريدل، غائبه شوه. هغه دوه

1 ... د وفات شوو ګسانو د ژوندي کيدو او د مرګ او قبر په باره کښې د ډيرو اهمو معلوماتو باندې مشتمل د حضرت علامه جلال الدين سيوطي شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تقريباً 500 کاله زوړ کتاب "شرحُ الصُّدور" اولولئ- دا کتاب د www.dawateislami.net نه د فري ډاؤن لوډ کيدو سره لوستلے او وړاندې ليږلے کيدے شي.



www.dawateislami.net

لفظونه دا وو: ”**شکريه مهرباني**“. د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اُمِّ عطّار د مزار سره غلام يٰسين قادري څوک دے؟

د امير اهلِسُنَّت د مور بي بي د مزار شريف سره د ”غلام يٰسين قادري“ نومې اسلامي ورور قبر دے. دا د سيدي قطبِ مدينه حضرت مولانا ضياء الدين احمد مَدَني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مُريدئ په وجه ضيائي وو او د امير اهلِسُنَّت سره به ئې بے حده مينه کوله. امير اهلِسُنَّت به ډير ځله د دوئي کور ته تشريف وړلو. د اُمِّ عطّار د قبر سره يوه چبوتره وه چرته چې به د کښيناستو سره دُعا وغيره کيدله. د غلام يٰسين قادري د وينې کينسر شو او هغه وفات شو نو د هٔغه چبوترې په ځائے د هغه قبر جوړ کړے شو د پاره د دې چې د مور بي بي قبر ته د حاضرئ په وخت د هغوئي خوا ته هم حاضري کول وي. الله پاک دې هغوئي اوبخښي. (مدني چينل پروګرام پرانی يادیں، قسط:7)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## اُمِّ عطّار او جامعات المَدينه (ګرلز)

اَلْحَمْدُلِلّٰه! ټول کال د عاشقانِ رسول په ديني تحريک ”**دعوتِ اسلامي**“ کښې د درسِ نظامي کوونکو اسلامي خويندو کليزه د رِدا پوشئ [څادر په سر کولو]



www.dawateislami.net

دستوره د امیر اهلِسُنَّت د مور بي بي د کلیزې [د وفات د ورځې] په نسبت سره په 17 صفر شریف کیږي. د الله ربُّ العزَّت په رحمت سره اوسه پورې په زرګونو خوش قسمته اسلامي خویندې په دیني علومو مشتمل کورس د "درسِ نظامي" شرف حاصل کړے دے. اَلْحَمْدُلِلّٰه! تر دې وخته د 11 اګست کال 2023ء مجلس جامعات المَدینه (ګرلز) د خبر مطابق په ټوله دُنیا کښې تقریباً 14253 اسلامي خویندو د 6 کالو درسِ نظامي کورس او 6123 زنانه طالبِ علمانو د 3 کاله فرض علومو کورس فیضانِ شریعت سعادت حاصل کړے دے او په دوئي کښې ډیرې داسې هم دي کومې چې د دِین فیضان په ټوله دنیا کښې د عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي په مختلفو شعبو کښې د دیني خدماتو فریضه ترسره کوي.

تیرا گھر خدمتِ دین کا مرکز بنا ہم پہ احسان ہے تیرے عطّار کا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نازل ہوں سدا رحمت کے گہر

| | |
|---|---|
| نازل ہوں سدا رحمت کے گہر، | عطّار کی پیاری امی پر |
| ہو پیارے نبی کی خاص نظر، | عطّار کی پیاری امی پر |
| ملت کو دیا ایسا بیٹا، | سنت کا عَلَم جس نے تھاما |
| ہو نور کی بارش شام و سحر، | عطّار کی پیاری امی پر |
| مولا! یہ گھرانا شاد رہے، | تا حشر یونہی آباد رہے |
| فیضان کرم کے ہوں گل تر، | عطّار کی پیاری امی پر |



www.dawateislami.net

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

# یومِ پاک آگیا اُمِّ عطّار کا

(17 صفر المظفر یوم مبارک اُمِّ عطّار)

یومِ پاک آگیا اُمِّ عطّار کا مولا مرقدِ کھا اُمِّ عطّار کا
ہوں میں ادنٰی گدا اُمِّ عطّار کا خوش نصیبی مری سگ ہوں عطّار کا
ان کی تربت پہ بارش ہو انوار کی مولا رتبہ بڑھا اُمِّ عطار کا
جس جگہ پر وصال مبارک ہوا وہ مہکتی تھی یوں جیسے گلزار سا
تیری اولاد اور سارے احباب پر رب کی رحمت رہے لُطف سرکار کا
حشر تک تیرے احباب پھولیں پھلیں بول بالا رہے تیرے عطّار کا
پدرِ عطّار پر کر کرم یا خدا ساتھ جنت میں دے ان کو سرکار کا
تیرا گھر خدمتِ دِین کا مرکز بنا ہم پہ احسان ہے تیرے عطّار کا
ان سے عطّار سی ہم کو نعمت ملی حق ہو کیسے ادا اُمِّ عطّار کا
در پہ حاضر ہوں میں اِک نگاہِ کرم کام بن جائے گا ایک بدکار کا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد



www.dawateislami.net


سگِ مدینہ ابو بلال محمد الیاس عطار قادری رضوی

فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران سبزی منڈی کراچی

فرمانِ آخری نبی صلی اللہ علیہ واٰلہ وسلم

"جو اللہ اور قیامت پر ایمان رکھتا ہے اُسے چاہیے کہ بھلائی کی بات کرے یا چپ رہے۔"

(بخاری حدیث: ۶۰۱۸)

میری پیاری ماں کی برسی کی تاریخ 17 اکتوبر ہے۔ ہو سکے تو کم از کم 17 بار دُرود شریف پڑھ کر ایصالِ ثواب کرکے یہ دُعا کے ثواب حاصل کیجئے: اللہ پاک آپ کو اور ساری امت کو بخشے۔ آمین بجاہ النبی الامین صلی اللہ تعالیٰ علیہ واٰلہ وسلم

صلوا علی الحبیب!

صلی اللہ علیٰ محمد


فيضانِ مدينه، محلّه سوداگران، زره سبزي مندهي كراچي

UAN: +92 21 111 25 26 92 I Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com I E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com